خارجیان دښمن دي بیلـــــتون زموږ غواړي

خدای دي ملي یووالی په برخه د افغان کړي

# د افغانانو غمیزه



سر محقق علی محمد منگل

۱۳۹۱ هـ ش

به ظاهر کښې که په خندا خندا لیده شم یاره
په اندرون کښې مې پراته دي د وطن د لې د لې غمونه

# دافغانانو غمیزه

څیړنپوه علي محمد منګل

۱۳۹۱

# کتابپېژندنه:


| | |
|---|---|
| نوم: | دافغانانو غمیزه |
| لیکوال: | څېړنپوه علی محمد منګل |
| کمپوز: | عبداللطیف احمدي |
| خپروونکی: | **منګل** |
| چاپ کال: | ۱۳۹۱\ ۲۰۱۲ |
| دچاپ ځای: | شعیب مطبعه |
| دچاپ شمېر: | ۵۰۰ ټوکه |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ا

# دافغانانو پر غمیزه باندې یو څو کرښې

افغانستان د ټولو افغانانو شریک او تاریخي کور دی، ددې تاریخي هیواد هر وګړی که هغه وړوکی دی او که ستر، که هغه ښځه ده او که نارینه ،که هغه لوستی دی او که نالوستی او که هغه دسیاسي چارو کارپوه دی او که عادي افغان ، خوله خپل تاریخي هیواد او دخپل هیواد له خلکو سره بې کچه مینه لري ، همدا بې کچه مینه ددې لامل ګرځیدلې ده چې دتاریخ په اوږدو کې د بیلو بیلو یرغلګرو او تاړا ککرو قوتونو له پرله پسې یرغلونو او تاړاکونو سره سره دادی په هسکه غاړه دیوه تاریخي او بریمن هیواد په توګه دنړۍ پرمخ ژوند کوي او دهر دښمن دهر یرغل مقابلې ته بیا هم لکه داوسپنیز غره په شان ولاړ دي او دهر ډول ناوړه حالاتو مقابله کوي.

له خپل هیواد سره مینه ، له خپلو خلکو سره مینه او په مجموع کې له انسانیت سره مینه په حقیقت کې له خدای(ج) او دهغه له نازولي پیغمبر حضرت محمد (ص) سره مینه ده ، ځکه دغه هیوادونه ، په دې هیوادونو کې دغه خلك ستر پروردگار (ج) دژوند کولواو له یو بل سره دمینې او اړیکو ساتلو په غرض پیدا کړي دي، او حضرت محمد (ص) دخدای (ج) دغه عالي پیغام دخدای (ج) بندگانو ته له ځانه سره راوړی دی، نو څوك چې غواړي خدای (ج) ورڅخه خوښ شي ، نو دهغه د استازي حضرت محمد (ص) راوړی پیغام دې پخپل ژوند کې خپله تگ لاره وگرځوي او ددې عالي پیغام په رڼا کې دې پخپلو زړونو کې هغه مینه ځای کړي چې خدای (ج) پرې خوشالیږي او دهغه پیغمبر حضرت محمد (ص) په تینګار سره دهغه د پلي کولو سپارښتنه کوي ، له ټول بشریت څخه په عامه توگه او له اسلامي امت څخه په ځانگړې توگه دا غواړي چې پخپل ورځني ژوند کې مینه او دوستي شعار وگرځوي او دسوکال ژوند دپرمخ بیولو له پاره ټول هغه خنډونه له منځه یوسي چې کله ناکله ددوی ټولنیز ژوند ته گواښ پیښوي.

زموږ دهیواد په معاصر ادب کې څیړنپوه علي محمد منگل له هغو کسانو څخه دی چې همیشه یې پخپل مسلمان زړه کې دغه مینه پاللې ، ساتلې او خپلو خلکو او ټول بشریت ته رسولې ده ، منگل صاحب که څه هم ساده لیکنه کوي خو په هره کلمه ، هره جمله او هره کرښه کې یې دومره زور او رغنده پیغام پروت وي

چې لوستونکی په ډیرې آسانۍ سره کولای شي د مطلب تل (بیخ) ته ځان ورسوي، دغه کوچنۍ رساله چې اوس اوس منګل صاحب په نیمه منظومه بڼه لیکلې ده دافغانانو هغه ستره غمیزه انځوروي چې له کلونو کلونو څخه را پدیخوازمونږ ځوریدلي او کړیدلي خلک ورسره لاس او ګریوان دي، څېړنپوه علي محمد منګل په هیواد کې دهرې ورځې له غمیزې سره اوښکې څڅوي، دیتیمانو له فریادونو سره خپل فریاد ملګری کوي او دکونډو له اسویلیو سره دخپلو اسویلیو تور لوګي یو ځای کوي، منګل صاحب که ژاړي، خو یوې سترې هیلې ته درسیدو له پاره ژاړي، دمنګل صاحب په سپینه ږیره که داوښکو لښتي روان وي، خو په هیواد کې دوینو د لښتیو دبندیدو د ستر ارمان په هیله وي او که دمنګل صاحب له خولې څخه داسویلیو تورې لوخړې پورته کیږي،نو په دې تمه دی چې که دده په خواږه او تاریخي هیواد ګران افغانستان کې دباروتو تور لوګي خپل ځای دخدای(ج) درحمت بارانونو ته خوشی کړي او ... لکه چې وایي:

دلته هره ورځ مونږ ته مرګ
او ژوبلې سپیره خوله خلاصه کړې ده
زما غمجن زړه دخوارکیو پښتنو
او افغانانو دوینې په توئیدو سره
چې بې ګناه او بې موخې پخپل منځ کې
دنورو او دښمن دګټو وټو

دساتلو دپاره هره ورځ توئیږي
سوی سکور او نینه نینه دی...
سره له دې ټولو ورانیو
په دې ټینګ ایمان لرم چې:
افغانستان یو سپیڅلی زیارت دی
خوارکي افغانان پاک ملنګان او مجاوران دي
دا زیارت به هیڅکله وران نه شي
دا دخېرنپوه منګل له مسلمان او افغان زړه څخه هغه راوتلی آواز دی چې دهر افغان زړه ته لاره پیدا کوي، دهر افغان زړه ورسره خوځښت پیدا کوي او دهر افغان په زړه کې دپاکو هیلو او امیدونو یو ځرک ځان را ځرګندوي، موږ هیله لرو چې یوه ورځ به دمنګل صاحب او نورو ټولو افغانانو دغه ستر ارمان تحقق ومومي چې پخپل تاریخي هیواد کې دسولې کوترې پروازونه کوي، ټول افغانان مینه ، مینه وي او هر افغان خپله شخصي ګټه له ملي ګټو قربانوي او په دې توګه افغانستان دافغانانو دشریک کور په توګه د ډاډمن او سوله ییز ژوند خاوند وي.

په پای کې منګل صاحب ته ددې رسالې دلیکلو له امله مبارکي وایم او دلوی خدای (ج) ستر دربارته ددوعا لاسونه پورته کوم چې زموږ هیواد دسولې او ورورۍ هیواد وګرځوي ، زموږ په زړونو کې له یو اوبل سره مینه پیدا کړي او منګل صاحب ته دې

روغه سته او اوږد ژوند ورکړي چې خپلو خلکو ته نورې داسې قیمتي مرغلرې وړاندې کړي چې ځومره ورته اړتیا ده .

زما همزولیه دوامدار او تولکیوال ملګریه!
په وطني مینه ژوندیه او فعال ملګریه!
خدای (ج) دې ژوندی لره دقام وطن خدمت له پاره
ویره دې سپینه په مثال شوه دغروال ملګریه!

بیا بیا منګل صاحب ته دډیرو مبارکیو تر څنګ ډیره کامیابي ، سر لوړي او نیکنامي غواړم، په قلم او ګوتو کې یې برکت غواړم.

په تړوله افغاني مینه

څېړنوال محمد عارف غروال

۲۱- ۶- ۱۳۹۰ هـ ش

کابل – چهلستون

داسوې زه سوی مې یار دی
سوی بازار دی سوې سودا پکې کومه

دلوی او مهربان خدای (ج) په نامه

# دسریزې په ځای

اې زمونږ ښایسته وطنه !
زمونږ روح او زمونږ تنه!
ولې او دڅه دپاره؟
ستا غر ، راغه ، سمه ، لګډ او تړوله خاوره
ستا دمېړنيو زامنو په وينو تکه سره ده ؟
هر کور ، کلی ، ښاردې په بمونو رنګ او ويجاړ دی
چې دغه ستاد غیرتي او سرتېرو زامنو دسرو وینو په انځور کې لیدل کیږي
ولې دې واړه ماشومان په چاودېدونکو توکو توټې شوي او توټې کیږي؟
ځوانان او سپین ږيري دې هره شېبه زلکدم او ځنکدن سلګۍ وهي
بورې ، کونډې او ورارې دې له غمونو په چيغو ژاړي

میندې دې دغمه مخ په ځپېږو وهي او سرونه شکوي...
اوس مهال:
په خوست ،هلمند، کندهار، پکتیکا، غزني ، بادغیس ، کونړ، لغمان
نورستان،پکتیا، ننګرهاراو کندوز کې جنګ په خرپ اوترپ روان دی
ددغه شوم او سپېره جنګ خرپ او ټس ټولې پښتو نخوا ته ورسېد
هیچېرې او هېڅکله په دنیا کې دومره دوینو ډنډونه
په تاریخونو کې لیدل شوي نه دي.
دا دچا دلاسه ، او ولې؟
څرګنده او جوته ده
چې دازمونږ دخاورې
دتاریخي دښمنانو دلاسه
دا هم جوته ده
چې دا زړه کراړی
او غدار دښمن
هره ورځ زمونږ دځورېدلي او خوار شوي غمځپلي ولس
په سرو غوښو باندې
دظلم او ستم غاښونه تېره کوي...
اې منګلهالوی خدای (ج) دېر مهربان دی
هره تیاره پسې رڼا راځي
نن دي او که سبا دا دښمن به
دنورو تاریخي دښمنانو په څېر

دافغان په کلك سوك باندي
خامخا له غوڅې ماتې سره مخامخ شي
څکه دظلم جام آخر نسکور دی
څېړنپوه علي محمد منګل
کابل – شهر نو انصاري واټ
١٢– ٣– ١٣٩٠ هـ ش

غمونه ډیر انبار انبار دي
دوطن غمیزی ته ناوی ژړ وینم

## مقدس نغری

دري نیمې لسېزې
مور په داسې سره اورکې
تېرې کړې دي
اولا بې(*) تېروو
چې یوه ورځ مو
هم روغه نه ده لیدلې
له دې کبله مې دزړه
نول، ګورم او خپګان
په چیغو ، فریادونو، زګېرویو
او کریغو بدل شو
چې له دغو ژړا، انګولاو
او اوښکو څخه
داخل په خپلو ګډو وډو کې
دپښتنو او افغان ولس
دویر،ماتم او غمځپلي ژوند

(*)_ بې : د به يې مخفف دی.

یو ناول او یو داستان کاږم:
له ابتذال، او پره والي
او تنافر ځخه به چکی او ډک وي
په دغو ګډو وډو کې:
هغو ته چې دلته یې
بده ورځ را پیدا کړې ده
دومره په غرېو سره وایم:
اې په بده لاره روانو!
اې زړه کراړیو او بدانو!
دا وراني، غم ، بلئ
ژوبله ، قتل او مرګ
به دلې ترڅو وي؟
دانا خوالې ولې له
درې نیمو لسیزو نه را په دې خوانه تمامیږي؟
آخر موږ دخدای بنیادمان نه یؤ؟
ترڅو پورې به په دغه سره
تنور او سرولمبوکې سوځو؟

× × ×

اې تاسو ټولوته دا معلومه ده
چې موږ دآرې او اصیلې آریانا
میړني او اصیل اوسېدونکي یؤ...

واوری اې بدانو!!
تاسو ولې دلته بدي راوړې ده ؟
تاسوټول زموږ له دې پاك نغري څخه
يو او بل لوري ته لكه غني خوښدلي يئ
چې ځانوته مو زموږ له بركته
نوې ځالې ډيرې وروسته جوړې كړې
اوس له ډيرې هوا، لويئ
او كبر څخه چې سركې مونشه پيدا شوې
خپل آر او اصيل غولی او دا دژوند لومړنی زانكو
او
دا مقدس او سپېڅلی نغری:
آريانا او آريانا ويجو ورانوئ
ګورئ!
دا پاك او مقدس نغری به
ورو او كه زروي
ستاسو دكبر جنو غاړو كولنډشي
ټول به ددې سپېڅلي نغري دنمك څخه
چې په سپك نظر او بې حرمتی ورته ګورئ
دالله (ج) په امر او دعظيم قرآن په بركت
دحضرت رسول (ص) په روی
ګېج او ګول شئ له دې هوا اونشې به خلاص شئ

دلته دپر دکبر او هوا ملعونان ، لکه :
سکندر ، اتیلا، هلاکو ، تېمور، بابر، اورنګ
فرنګ او روس غوندې راغلي چې کنډ کپر شوي دي
په لاسو ګوډ
په اندامو شل
په غوږو کاڼه
په سترګو ړانده
په ژړاو انګولا په خوارو خواریو بېرته تللي دي
× × ×
دلته دآریا اصیل اوسېدونکي
مېړني پښتانه او ننګیالي افغانان ژوند کوي
دا د اصیلو ټاټوبی دی
دلته هر تېری ، تجاوز او زورګیر
له خاورو سره خاورې شوی دی
ځکه :
دلته ټول توریالي اوسي
دادننګیالیو زانګو ده
که دا ځل یې:
دا له د رې نیمو لسیزو تېریدو سره سره دا بې واکه مټ
بیا درښتیاني ملي یووالي په قوت
پیاوړی او غښتلی شي

نو به دا تېری او تجاوز چې دامریکا په مشری راغلی
او پیل دی، دړې ، وړې ، تری تم
او پو پنا شي.....
څکه:
دلته آریانا کې تل خپلواکي وجود لري
خپلواکي ټولې دنیا ته له دې ځایه رسېدلې ده
اوآزادي ټولې دنیا کې له دې ځایه رڼا اخلي
پلوشې او شغلې یې ددنیا لر او برته رسېږي
دلته بې له شک ښخه دآزادی فرهنګ ځلېږي
دلته دعظیم الشان قرآن مقدسه رڼا ځلېږي
دلته دحضرت رسول کریم (ص) ارشاد جلوه کوي
دلته دچار یارو دخلافت ځلا او دعمل بیان رواج لري
نوځکه:
دلته دهر زورګیر خندا
په ویر او ژړا بدلېږي
دلته هر زورګیر په موسکا راروان وي
خو په ژړا او فریادونو بېرته ځي
دلته ددوی دخوشالۍ آرام او سوړ ژوند پرې
سور اور ، تنور او ماتم شي
دلته دراغلیو زورګیرو
او زموږ ترمنځ هر وار

دسرو وینو رودونه روان شي
ددوی وینه خوساشي
چنوسی وکړي او بیونه یې خېږي
زموږ وینه دحق وینه ده
زموږ وینه دشهادت وینه ده
عطرونه او خوشبویي یې پورته کیږي
ځکه:
دوی یرغل کړی
ظالم دي ، دخدای(ج) او رسول دښمن دي
دانسان او بشر قاتلان او ملعونان دي

× × ×

زموږ تېر زخمونه او ټپونه لا جوړ نه وي
چې بیاخه آرام مو نه وي کړی
نوي او تاند ټپونه مو په غورځنګونو شي...
نودیرغلګرو سره چې نوی تېری یې راکړی
بیا لاس او پنجه شو....
دا جوته ده :
چې دلته هرظالم او یرغلګرته
ددوی دشوم عمل له کبله کنده
او برزخ جوړ دی
چې په اسانی سره بیا ترې تلی او وتلی نشي

ددغو جا برو او ظالمو دلاسه
پرموږ په خپل کور کې توره تیاره ده
دباروتو تورې وریځې را باندې ښوري
دبمونو توغنیدیو او چاودېدونکو توکو
په سرو لمبو کې سوځو...
دا هم په ډاګه باید ووایم:
چې که داځل موږ دملي یووالي لاسونه
په رښتیا او صداقت سره کلك ورنه کړل
دا تورتم به لازیات شي
تورې وریځې به کلکې شي
دظلم بارانونه به جړی شي
دا دتیري او تجاوز ناول
او داستانونه به نور هم په موږ
خوارو افغانانو باندې لا پسې ترخه شي
موږ ته ددغه شوم تیري دلاسه :
خوشی او تریخ مرګی راغلی دی
په بې رحمی سره مو دا ملعونان وژني
اولا به وژل کیږو
ځکه:
زموږ دملي یووالي لاس
او مټ لاښه سره پوخ نه دی

موږ اوس دسر په سترګو وينو
چې دلته راغليو زړه کراړيو بشردوستانو
په ډېر ظلم او ستم سره په مينه او قهر
زموږ مرګ ، چور ، چپاول
او سراسري تاراج ته ملا تړلې ده

× × ×

دپښتنو او افغانانو کور او تاريخي کلي ته
ډېرې ډېرې سپېرې، شومې،
سترې بلاوې ، شيخې ، شيشکې
اواژدها را ننوتلې دي
پښتانه بايد پوه او بيدار شي
ځکه:
داخونخوارې اژدها يې ټول ژوند ورتماموي
که ددغو اژدها وو دپاره
ټول افغانان لاسونه سره يو نه کړي
نو به ټول پښتون او افغان ورک
او نابود نابود شي.....(خدای (ج) دې نه کوي)

× × ×

نه پوهېږم ، چې ولې او دڅه دپاره؟
دکومې وحشي او دبربريت نه ډکې لارې څخه
چې ډېر بد تورتم وه

موږ ته مرګ ، ژوبله ، ویجاړه
او وېرانه ویراني راغله
چې موږ یې له درې نیمو لسیزو څخه
راهیسې په ویر اوساندو اخته کړي یو
دوی دخپلو وحشي ، بربري او شومو
ګټو دلاس ته راوړو دپاره
رنګ رنګ پلمې او بهانې را پیدا کړې دي
اوبه خړوي او ماهیان نیسي
موږ یې خوشي په خوشي سره لاس
اوګریوان کړي یو
موږ ته دا ضرور ده چې ددوی
په خوږه او دوستۍ ونه غولېږو
ډېر یې غلط او دوکه کړو ،
خپلو منځو کې یې له ډېرو کلو راهیسې لاس ګریوان کړو
چې اوس راته نه زور او واک پاتې دی
او نه هم ژواک!
موږ ته دا ضرور او بیخي اړینه ده
چې یو له بله سره مینه ، مهرباني ، ورورې
ډېره لور پینه او عزیزوالي وکړو
پخواني آریایي یووالی سره ټینګ وساتو
زموږ دیو بل سره مینه او کلکه ربښتیانی ورورې

ستر او بې ساری قوت او سبک داسې افغاني هود دی
چې بيا هيڅ ملعون قدرت دايو والی ماتولی نشي
مورږ ته دا ډېره ضرور ده :
چې سره نږدې شو، يو موټی او يو لاس شو ،
کنه خدای مه کړه بيخي ورکيږو
بايد يو له بل سره دسولې او پيوستون لاسونه ورکړو،
کنه پاتې او ناکاميږو چې برياليې کيږونه
موږ ته دابنايي ،چې دپښتنې ملالې په شان
دننګ ، غيرت ا و ملي يووالي سندره په لوړ غږ ووايو
داولې او دځه دپاره؟
داځکه :
دنه ويلو ، مروريدلو او خواشيني کېدلو ځخه دا راته ښه ده
چې يو بل ته سره غوږ غوږ شو
اويو بل ته په تلوراتلو سره نږدې شو
داسندره نن سبا موږ ته ډېره
ضرور او بيخي ديادولو ده ،
چې دملي يووالي په بختور ، فيض لرونکي
او افغاني جګ غږ يې په شريکه سره ووايو:
مينه په تلو راتلو زياتيږي
کله راځه کله به زه درځم مينه

× × ×

دا تورمخي ملعونان
او
دوزخي وحشیان
لانور هم غواړي ،چې موږ یې په لاس کې
بندیان ، غلامان او تل اسیروو
چې هره شېبه مو ورتې ، باداري وکړي خو افغانان دچا
باداري نه مني...
چې ددوی دلعنتي توپکو د لیندیو
او ماشو په واسطه سوي او لوغړن ښکار شي
دغو ملعونا نو دخپلو ګټو دپاره موږ ته یوازې او یوازې
دا خوښی او بې ځایه دباران په څېر مرګی او ژوبله راوړي دي
زموږ دمینې ، وروری او اتفاق سپین سباوون یې
په تورتم او سرو وینو راته تک تور ککړ کړی دی
هو کې!!
دغوید مخیو او ملعونانو او دشیطان ملګرو:
له ځان سره موږ ته مرګ راوړ، ویریې راپه برخه کړ
همېشنی بدي او دښمني یې راته وزېږوله
زموږ افغاني یووالی، وروري، وداني
اوآبادي یې هامون ته ورغوته کړل
زموږ رڼا شپه یې تورتم او تیاره کړه
دېوې او څراغونه مو دغو معلونانورامړه کړل

ډیره ترخه او لالهانده ، شومه، سپېره
اوناکراره ورځ یې راپه برخه کړه ....
که موږ افغانان مینه سره ونه کړو
که موږ سره نېږدې نه شو،وروري ونه کړو
که موږ په سپېڅلتیا سره
یو بل ته ونه خاندو او لاس سره ورنه کړو
نوبه دا دملعونانو او وینه څښونکو
دمرګ ظالم سپاهیان ، تل زموږ مرګ ته
ددوزخي توپکو سره په لاس ، موتي او
ګوته په لینلۍ او ماشه راته نیغ ولاړ وي
ددغو ملعونانو دظلم له امله زموږ په حق کې
مځکه، میاشت، لمر، مریخ او زهره دوی ته
په بده او ترخه سترګه ګوري، ډېر لعنت پرې وایي
موږ خوار اوکړېدلي افغانان
اوس باید په دې پوه شو
چې موږ ویر منو، غمځپلیو، غمجنو
او آواره شویو افغانانو ته
نورهیڅ نه دي راپاتې
یوازې یو شی چې زموږ
هیلې راغوړوي
او زړونه مو خوشالوي،

هغه ملي يو والی دی
زما په ګډه و وډو کې
هر وخت او هره شېبه
دملي يو والي شيرين ناول
او خواږه داستان
سراو څرګ راوهلی دی....
څکه ، ديو والي پلوشې زموږ
ددغه کړغېړن ژوند دپاره
یوه ضروري اړتیا ده
دا ځکه:
دلته هره ورځ موږ ته مرګ
او ژوبلې سپېره خوله خلاصه کړې ده
زما غمجن زړه دخوارکیو پښتنو
او افغانانو دوینې په توئېدو سره
چې بې ګناه او بې موخې په خپل منځ کې
دنورو او دښمن دګټو وتو
دساتلو دپاره هره ورځ توييږي
سوی سکور او نینه نینه دی....
سره له دې تولو ورانیو
په دې ټينګ ايمان لرم چې:
افغانستان یو سپېڅلی زیارت دی

خوار کي افغانان ، پاک ملنګان او مجاوران دي
دا زیارت به هیڅکله وران نشي
او نه به يې دا ملعونان ونیسي
پوره باور لرم:
چې پښتانه او افغانان لکه پولاد داسې دي
هېڅکله به ابل او مات نشي
خو وبه څوریږي ، په ستونځو به اخته شي
دا میړني بازان به
دمیړانې جګې جګې الوتنې وکړي
دا وران زیارت او کور
ددوی کعبه ده
دوی دابراهیم (ع)
او دحضرت محمد (ص) په لار کلک روان دي
دا کعبه به ودانیږي
او آزادیږي به
دا تیاره کور به بیا رڼا کیږي
خدای (ج) مهربان دی
پوره یقین دی او باور لرم
چې دلته به تل ژمی او دوزخ نه وي
ساړه او ترخه بادونه به نه وي
سمسور پسرلی به راشي

خوږې او پستې دوروورۍ ورېږې به
د پسرلي له نرم الوېښ او شمال سره وچلیږي
ټول وطن به ګلالی شي
ګلان به وغوړیږي
دسولې ګلان به خوشبویه شي
باغونه به سمسور شي
شاړ او شنډېتې به شنه او زرغونه شي
څکه:
موږ ترخې شپې سبا کړې
ترخه سحرونه مو بېګاه کړي
موږ شپو په شپو ژړلي دي
موږ په لپو لپو اوښکې توېې کړې دي
موږ دجنازو بهیرونه لیدلي دي
موږ ساندې او دویر غږانګې ویلې دي....
موږ مسلمانان یو
په بسم الله الرحمن الرحیم
او
لااله الاالله محمد رسول الله
باندې مو کلك ایمان راوړی دی
دایمان له مخې په پوره باور سره وایو
چې هره توره شپه پسې سپین سحر راځي

دلته به دوطن دا توره شپه داسې رڼا شي
لکه په دا آسمان کې لوړ او رڼا لمر
چې ټوله دنیا یې سپینه رڼا کړې ده
خو، کله چې زموږ دمینې او ملي یووالي لوړ غږ
دفیض او برکت نه ډک شي
کله، چې زموږ افغاني غږ او بانګ سره یو شي
بېګانه غږ ونه ټپ او غلي شي
نو به دا پښتني او افغاني غمیزه
په خوشالۍ او خوښۍ بدله شي
لوی خدای (ج) به زموږ په کور
کلي، ښار، بازار، ولایت
او پلازمینه کې سوله او ښکلا وشیندي
راوشیندي او راوشیندي
دمینې او سولې ژوند به را پیرزو کړي
په دردونو کې به مو خوږ لت پیدا شي
په غمونو کې به خوشالي سرراووهي
زموږ ورورۍ ته چې هرڅوک
په ژوره مینه ورورۍ ووایي:
نو دسولې او امن فضا به دلې وغوړیږي
دجهل توږتمونه به ټول په انساني مینه پرېولل شي
انشاالله دا ورځ راتلونکې ده ....

لوی او مهربان خدای (ج) دي

دغه دباروتو په تورو لوګیو کې پټه رڼا بیا راولي

پښتنووژله نوره پرېږدئ

توره تیاره ده چې رڼا را باندې شینه

امین یا رب العالمین

علي محمد منګل

کابل – شهر نو – انصاري واټ

۸– ۳– ۱۳۹۰ هـ ش

شنیزي دي پاڼې د ګلاب دي

د ښکلي غېږې د عطرو بوی را ځینه

## ویر او ماتم

ولې هره ورځ
له اسمانه راورېږي
داوربمونه
زما په وران
او ویجاړ کلي؟
ولې ټول شاه زلمي
ټپي زخمي
او خاورې په سر دي
زما د جنت نښان کلي؟
ولې مې ټول کلی
په ویړو سور دی؟
ولې هره شېبه جنازې
خاورو ته روانېږي زما د کلي؟
نه پوهېږم
دا ویر او ماتم، چې راپېښ دی
کله به ورکېږي زما د کلي؟

## سل بلا

ای بنا ییتی!
دا توري شنډگۍ دي
له ځایه
او
له اصله تکي توري دي
راته وایه
چې دا تورکجل دي
ولې
او د څه دپاره
بیا پرې پوري دي؟
ای خوار کیه!
ته لا نه پوهیږې
چې یه تورو
تورمشي پورې
ودغه گوره!
چې له یوې توري بلا
بیا څې سل نوری

## ټوټې

په سره اور کې وسوې وطنه

له غمه دې ژاړم ایرې شوې

د منګل غمجن زړه یو داغ شوې

دربان‌دې ویاړم ای ختنه

